مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندۀ مضمون میباشد، عقیدۀ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

سید عبید الله نادر
۲۰۲۴/۰۸/۱۲

# د معنویاتو ورمې

نسیم اسیر د یو بیدل پیژندونکي او با معرفته کورنۍ پورې اړه لري ،د علم او ادب سره د دوي د کورنۍ بی کچه مینه ده او وه ،نو همدا وجهه ده چي محمد نسیم اسیرد حضرت بیدل مولانا او د نورو شاعرانو په اشعارو مخمس لیکي او که مبالغه نه وي او صادقانه اقرار وکړو ، په خپلو مخمسونو کي اوږه په اوږه د حضرت مولانا او حضرت بیدل سره روان وي ،چي ده، دا قوت په شعر کي د خپل د کورنۍ بحثونو او ناستو پاستو د خپلو مشرانو نه چي د علم او ادب مئینان ول اخیستی ،له ډیری مودې د ده یو شعر چي د حضرت مولانا په یو شعربندی یې مخمس لیکلی دا زما ډیر خوښ وو او خوښ دی.دا چي د حد نه می زیات خوښ وو نو مینه اومحبت می د دي شعر سره د لاري هادی وګرځید .او دا شعر می د پشتو د یو ادبی نثر په بڼه راوژباړه، چي اوس يي د ادب دوستانو ته وړاندی کوم.له یاده دي و نه وځي چي د محمد نسیم اسیر شعر د زیاتو معلوماتو له پاره د مولانا د شعر سره یو ځای د ژباړي لاندی لیکل شوي . چي مینه وال وکولای شي دا دوه شعرونه هم ولولي ،او ورته لاس رسی ولري داسي ښکاري چي نسیم اسیر په دي شعر کي د حضرت مولانا هغه ناوئیلي چي ده باید وئیلی وای،ده وئیلي ځکه د وخت او زمان په پام کي نیولو سره او شرایطو په رعایت سره مولانا به ډیر څه غوښتل چي ووایي ،خو د ما حول شرایطو ته یې هم، پام نیولی .چي هغه د زړه خبری محمد نسیم اسیر برسیره کړي دي،

ای قوم به حج رفته ، کجایید، کجائید

معشوق همین جاست بیائید بیائید

نو دی)نسیم اسیر) پیل د مخمس په دي شعر کي داسي کوي : ،که یو ورځي تاسي د خپل بصیرت سترګي خلاصی کړئ ،او د وسواس د دي بند او لومی څخه بهر راووځئ او دا روح نوازه او ځان او حال بخښونکي نغمه زمزمه کړئ . چي ای هغه قومونو چي تاسي حج ته تللي یاست راځئ راځئ چي هغه معشوق چي تاسي یې د لټون پسي یاست، هغه همدلته دی ،ای چي تاسي د تصوراتو نه لیری یاست ،او په خپل اعمالو او کردارونو کي ډوب یاست نو تاسي ته یوه خبره د حقیقت کومه ،تاسي با خبره اوسئ او دا زما نه ومنئ ،چي ستاسي معشوق تاسي سره دیوال په دیوال ګاونډی دی .او تاسي دمعشوق په لټون په ریګونو اوبیابانونوکي سرګردان یاست . دا تاسي په څه هوا کي یاست. په دي یوهیږئ تاسي به غیر د کومی توښي او یا زیرمی یاني د نیکو اعمالو د تحفو اوډالیو نه په غیر بی سر او سامانه او بی داني ولاړئ ،

دام تاسي نه ځای پر ځای پاتي شو .او تاسي بی داني ولاړئ ،یاني بی له توښی د اعمالو او صالحه کارونو تاسي په ظاهره مو د دوست خبری وکړي ،خو تاسي بیګانه ته لاړئ ،یا د بیګانه د ملاتړ کولو آبادولو او امداد له پاره لاړئ ،

تاسي لس ځلي د هماغي لاري څخه هماغه کور ته لاړئ . یعنی معنی چي کعبی ته ولاړئ

یو ځلي د زړه په سترګو و حقیقت ته پام واړوئ او دخپل زړه او ضمیر څخه نفرتونه او کینې لیري کړئ . او دخپل روښانه ضمیر په واسطه د معرفت پر بام وخیژئ یانی خپل زړه او ضمیر ته رجوع وکړئ .

تاسي ډیر ځلي کعبی ته ولاړئ او ډیر تیټ او پاست مو وکړو ، او هم ډیر زیات صفا او مروې ته ولاړئ، خو کومه ده هغه روح بخښونکي او ځان بخښونکی نغمه چي تاسی یوه لحظه اوریدلي وي ، او د ځانه سره مو راوړي وي ،



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de

یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په خیر و لولئ

کومه ده ستاسي تحفه د معرفت چي له هغی دیاره مو راوړی . که تاسي د ګلونو باغ لیدلي نو کومه ده هغه د ګلونو ګیدی چي تاسي يې نبني راوړي . که په ربنتیا د خدای له پاره تللي یاست ، نو کومه دی هغه ستاسو ګوهرچي تاسي لاس ته راوړی .او حاصل کړی مو دی ،
بیا هم که تاسي په بنو د هغي کور)کعبی شریفی (دروازه جارو کړی .او په بادیه کي یانی د شګو او دشتو او بیابانونو کي مو مزلونه کړي، چي نه مو څه وخوړه او نه مو خوبونه پوره کړه ،
او د هغي کور په توصیف کي مو درني او ښکلي خبری وکړی ،نو د هغي کور د خاوند نبنی نبناني هم وښایاست که تاسي په ربنتیا یاست .
ای حج ته تللوچي د بیګانه کور ستاسو له امداده آباد دی .لړ خپل د دي وران کور یاد هم وکړئ .او د غمجنو زړونه مینځ کي ابادی وکړئ او کورونه جوړ کړئ .او حزین او غم ځپلو زړونو ته مرحم شئ .
خو بیا هم په هر صورت تاسي چي اوس دومره زحمت ایستلی ،او تللي یاست. نو دا ستاسي زحمت او تکلیف دي په دي لاره کي تاسي له پاره ګنج وګرځي .
خو افسوس چي په خپل ګنج تاسي خپله پرده یاست .
د حضرت مولانا په کوم شعر چي استاد نسیم اسیر مخمس لیکلی
هغه شعر دا دی :

ای قوم به حج رفته کجائید کجائید
معشوق همین جاست بیائید بیائید
مولانا جلال الدین بلخي

از استاد نسیم اسیر

یک روز اگر چشم بصیرت بگشایید
یک بار گر از ورطء وسواس برآیید
این نغمه جانبخش مکرر بسرایید
ای قوم به حج رفته کجائید کجایید
معشوق همین جاست بیآیید بیآیید
*******

ای دور ز پندار و فرو رفته به کردار
پا از حرم عقل برون آمده مگذار
یک حرف حقیقت به تو میگویم و هوشدار
معشوق تو همسایهء دیوار به دیوار
در بادیه سرگشته شما در چه هوایید
********

بی دانه عجب بی سرو سامانه برفتید
خود دام بجا مانده وبی دانه برفتید
از دوست سخن گفته، به بیگانه برفتید
ده بار ازان راه ، بدان خانه برفتید
یکبار ازین خانه برین بام برآیید
*********

در کعبه رسیدید و چمیدیدو خمیدید
بسیار صفا رفته و در مروه دویدید
یک نغمه خوش کو اگر آن لحظ شنیدید
یک دسته گلی کو اگر آن باغ بدیدید
یک گوهر جان کو اگر از بهر خدآیید
*********

با آنکه به مژگان در آن خانه برفتید
در بادیه پیمایی نه خوردید و ، نخفتید
صد در گرانمایه بگفتید و ، بسفتید
آن خانه لطیف است نشان هاش ، بگفتید
از خواجه آن خانه ، نشانی بنمایید
*********


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

ای خانه بیگانه ز امداد تو آباد
از خانه ویران شده خویش بکن یاد
در خانه دل های حزین، خانه کن ایجاد
با این همه این رنج شما گنج شما باد
افسوس که بر گنج شما , پرده شمایید
***********

او دا هم د حضرت مولانا یو بل شعرچي وايی :
هزار بار پیاده ، طواف کعبه کنی
قبول حق نشود ، گر دلِ بیازارِی



مولوی » دیوان شمس » غزلیات

ای قوم به حج رفته کجایید کجایید
معشوق همین جاست بیایید بیایید
معشوق تو همسایه و دیوار به دیوار
در بادیه سرگشته شما در چه هوایید
گر صورت بی‌صورت معشوق ببینید
هم خواجه و هم خانه و هم کعبه شمایید
ده بار از آن راه بدان خانه برفتید
یک بار از این خانه بر این بام برآیید
آن خانه لطیفست نشان‌هاش بگفتید
از خواجه آن خانه نشانی بنمایید
یک دسته گل کو اگر آن باغ بدیدید
یک گوهر جان کو اگر از بحر خدایید
با این همه آن رنج شما گنج شما باد
افسوس که بر گنج شما پرده شمایید

اوس وخت او زمان کې خو د هر چا د فکر لمن پراخه ده او هر څوک په خپله خوښه د خپل فکر او سوچ تناب غزولي شي ، نو اوس خلک هر څه په آزاده ويلای شي ،نو په اغلب ګمان دا څه چې قدرمن استاد محمد نسيم اسير يې د مولانا په شعر باندی مخمس کې تشريح کوی ، دا به حضرت مولانا هم پری پوهيده او هم غوښتل چې ووايي ،خو د وخت او زمان او ماحول په پام کې نيولو سره د شرحی نه يې خود داری کړې ،اګرکه د فهم د خاوندانو له پاره يې اوس هم ډير څه رسولي ،کوم درد چې په دي شعر کې او کوم درس او پيام چې دا شعر يې رسول غواړي هغه پيغام په دي شعر کې شته،چې د علم او معرفت خاوندان ترې ټکي اخيستلای شي ،ډيرخلک يو ځل نه چې څو واری حج ته ځي ،چې په داسي حال کې چې په ګاونډ کې به يې انسانان وږي او لڅ وي.او ځيني به د لوږي مری ، خيني به بالکل د سيالۍ او رواج څخه پاتي وي . ځيني به خپل اولاد ته ډيری آرزوګاني لري او هغه يوه آرزو به ورته نشي پوره کولی .چې د دي درک هم يو احساس غواړي .او ورته به ځوريږي خو شيرين آغا او قند آغا به لسم او شلم ځل حج ته روان وي .د حضرت مولانا د شعر موخه انسانانو پام اړول دي ټکو ته دی .چې نسيم اسير په خپل مخمس کې ډير ښکلی اوښه تشريح کړی ،او د پښتو ادب په ادبی نثر کې يې ما ژباړه تاسي ته وړاندی کړه .
سيد عبيد الله نادر


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليرلو مخکې په ځير و لولـئ